ش. حصین شنبه ۱۰ سپتامبر ۲۰۲۲

# له سرلوځ سره څو سرلوځي خبري

18/04/2012 ش،حصین :

د بینوا او څو نورو برښنا پاڼو پرمخ مې د «سرلوځ مرادزي» هغه لیکنه ولوستله چې سرټکی یې و »طالبان او شر ګډي روشنفکران«. دا ډول له سپکو سپورو ډکې په ښکاره امریکایي پلوه د تیري او تجاوزپه ګټه لیکنې او څرګندونې څه لږې نه وې او نه دی. خو سرلوځ دا ځل د هیواد اشغالګرو او ورسره مزدور دولت ته د ښه خدمت په خاطر د خپل ډیر خوار له منطقه تش قلم ژبه د وطن هغو روښانفکرانو ته ور اړولې چې ټول ژوند او احساس یې له وطن او د وطن له انسان سره مینه او د خپل ویاړلي تاریخ او ملي لوړتاریخي هویت د خوندی ساتلو له پاره وقف کړیدی.

له تیري، اشغال او ورسره خونړي له فساده ډک ضد انساني او په عمل کې ضد بشري روان بهیر څخه ملاتړ، هغه ته مشروعیت ورکول او خپلو خلکو او تاریخ ته شا اړول په هره پلمه چې وی، یو ښکاره ملي ضد دریځ دی. دا چې پوځي تیري او تر لسو کلونو زیات پردي اشغال افغانستان ته د سرلوځ په خبره دموکراسي، د بشر حقوق، د ښځو آزادي، مدنیت، پرمختګ، او دې ته ورته څه راوړی دي که نه، دا خبره له ټولو موجودوترخو واقعیتونو سره سره کیدای شي د هرچا د پوهې، تجربې، ټولنیزې پیژندنې، په روانو پیښو کې د ځانګړو پټو او ښکاره منفعتونو له مخې د بحث وړ وي. خو که په بحثونو کې د مخالف نه ځغمل ، ځانته لوړه بیه ورکول او نور ټیټ او لویدلي ګڼل را منځ ته شي، نوبیا په طبیعي توګه د ارواښاد سید بهاوالدین مجروح په خبره د منطق ځای ځانځاني ښامار نیسي او دغه ښامار ژوند له ټولو ښو او بدو سره له ستوني تیره وي.

د سرلوځ یې شمیره لیکنې مې په تیره بیا په افغان جرمن برښنا پاڼه کې لوستلې دي. هغه د همدې برښنا پاڼې د امریکایي پلوه نشراتي پالیسی له مخې په ټول توان هڅه کوی چې د وطن اشغال ته مشروعیت او د اشغال

دوام ته د امریکایي پوځي «تلپاتې» اډو په اړتیا پرله پسې لیکنې وکړي. د ده ټول منطق پردې ولاړ دی چې امریکایي او ناتویي اشغال (دی یې اشغال نه بلکې د«لویدیځوالو» شتون ګڼي) دموکراسی، د بشر حقوق، د ښځو حقوق او دې ته ورته هغه اوتې بوتې چې همدې اشغال جوړې کړي له ځانه سره لري او دا زموږ وطن ته هوساینه، پرمختګ او تمدن راوړي. د دې سترو ښکرورو دروغوپه وړاندې که چا وویل چې د استعمار او نوي استعمار او د پوځي ګلوبالیزم په ماهیت کې د مظلومو اولسونو له پاره دموکراسي او دی ته ورته څه نشته، نو هغه بیا سم د لاسه د طالبان ملاتړي بولي. له دې سره سم طالبان له مخې د پنجاب او آی اس آی نوکران ګڼي ا وپه وطن کې د لس کلن په ښکاره ملي مقاومت ټول زور هم یواځې له پنجابه بولي.

مخکې له دې چې د سرلوڅ اصلي لیکنې ته وروګرځم له ده څخه څو پوښتنې اړینې بولم:

۱- د افغانستان ټول تاریخ د پردو په وړاندې د سر په بیه د مقاومتونو تاریخ و. همدغه تاریخ دې اولس ته یو ځانګړی کرکتر ورکړیدی. دغه کرکتر«سپی دې یم خو ژوندی دی یم» نشي ځغملی. دا سمه ده چې د وخت د شوروي اشغال په وړاندې پانګوالې نړۍ او سیمه ییزو لاسپوڅو یې د هغه وخت د«جهاد» شاته په دریدو د« نړیوال کمونیزم» ملا ور ماته کړه. خو آیا په همغه حرکت کې هم زموږ د خلکو او  اولسونوله لوري  دتیري او تجاوزپه وړاندې د پاڅونونو او مقاومتونو اصلي تومنه زموږ خلک او اولسونه وو،،؟

۲- که لږ مخته لاړ شو دهند د مغولي امپراطورۍ، د ایران د صفوي خونړۍ واکمنۍ،او د انګلیسي نړیوالې امپراطورۍ پرخلاف زموږ د خلکو او اولسونو شاته څوک ولاړ وو؟هغه وخت خونه پنجاب و، نه روس و او نه هغه فارس چې نن یې ایران بولي. او د عربي بنسټپالنې خو لا څه نښه هم نه لګیدل کیده؟

۳- همدا «جهادی» تنظیمي ډلې چیرته را جوړې او د نړیوالو سیاستونو د معاملې کچې ته ورسیدلې؟  همدا اوس هم باور لري چې دا ډلې به له ایران او پا کستان څخه ګوښه شوي وي؟

۴- آیا روانه واکمني په ښکاره د«لویدیځوالو» د جاسوسي شبکو د څو ښکاره جاسوسانو او د همدغو«جهادي» تنظیمونو، یو پردو جوړ کړی سهامي ډوله مصلحتي شرکت نه دی؟

۵- کولی شی د پنجاب ، طهران  او آن روس د جاسوسانو برخه په دې واکمنۍ کې له سترګو وخورځوی؟

۶- د همدې واکمنۍ اصلي څيرې له کومې دروازې هيواد ته را ننوتې؟ هغوی چې د امريکايي انګليسي اشغال له پاره له پخوا روزل شوي وو او د پاکستان له دروازې راتيريدل، دا کار د پنجاب او آی اس آی له منلو او مرستې پرته شونی و؟ انسان د وجدان په درلودلو انسان دی، وجدان هغه څه نه دی چې هغه په هر بازار کې پلورلی او بيا را نيول کيدی شي.

۷- پاکستان به يو اتومي قوت وي. خو نه د امريکا او پخواني شوروي او نني روسي په شان ستر اتومي قوت دی او نه هغه ستر اردوګان او پرمختللی پراخه جګړييز تخنيک لري کوم چې نوموړوي زبرځواکونو او نوره پرمختللې نړۍ يې لري. که په دې هيواد کې د دوخت د انګريزي استعمار، د استعماري نړۍ ستنې کړې شوې او د شرق بلاک لوی او واړه همدلته په ګونډو شول، نو بيا پاکستان او يا ايران څنګه کولی شي چې په دې خپل خوار لويدونکي توان د افغانستان د اشغال خبره وکړي؟ مګر دا جوړونه په خپله هم ستا د«لويديځوالو» جوړونه نه ده. هغوی څه وکړي د دموکراسۍ، ګلوباليزم، د بشر د حقوقو، آزاد بازار، مدنيت او بيا جوړونې شعارونه يې بې اثره شول. جګړه خو هرومرو يو شعار غواړي. که همدا د ايران او پاکستان د خطر خبره له حده زياته ونه پړسوي نو بيا خونه اشغال د دوام دليل موندلی شي او نه هم د دايمي امريکايي پوځي اډو جوړول کوم منطق ته رسي. آيا واقعيت همدا نه دی چې په دې شعار په سيمه کې دپيړيو په عمر دښمني کري؟

۸- استعمار په هره بڼه چې وي اخلاق او جوړونه نه لري. پانګوال نظامونه اخلاقي نه بلکې بشپړ سياسي، د واکمنو کمپنيو د غوښتنو استازي او د واکمنې مالي اليګارشي اجرايي برخې دي. د پانګوالې نړۍ ګلوباليزم د شوروي واکمنۍ د وخت دولتي سياسي شوی انټر ناسيوناليزم ته ورته يوه لوبه ده. نه پرلتري انټرناسيوناليزم د هيوادونو پوځي لاندې کول و. نه د ګلوباليزم اصلي تعريف دغه و چې نن يې وينو. هغه هم په يوه پوځي سياسي غرور ولاړ د اولسونو د ملي کرکتر خلاف يوه ناروا جګړه وه او دغه هم تر هغه ډير رسوا او په سخت فساد اخته تر ټولو ډير خونړی سياسي پوځي غرور او ورسره د ملتونو د طبعي شتمنيو غارت دی. ويتنام ته يې څه ورکړل؟ عراق ته يې څه پريښودل؟ په فلسطين څه روان دي؟ له يوسل او ديرسوکلونو زيات استعمار، لاتيني امريکا او تورې افريقاته کومه انساني هو سباينه ورکړه؟ ولې د افغانستان په خلکو دومره مين دي چې خپل ټول په همدوی لوروي؟ د دې خبرې منطق چيرته دی؟

د پوښتنو دا لړۍ پای نه لري. ما وغوښتل يوائې څو اشارې وکړم.

زه او سرلوڅ یو وخت د افغانستان د خلکو د دموکراتیک ګوند غړي وو. په دې توپیر چې دی په همدې ګوند کې د مور او زه د میرې ځوی وم. ما د همدې ګوند په واکمنۍ کې جبري احتیاط او جیلونه ګالل، دی د ولایتي ګوندي کمیټې غړی او آن منشي و. په دې ویاړ هم کوي چې د جلال آباد د دفاع د قرارګاه غړی و. له لیکنو څخه یې ښکاري چې ده اوس توبه ورکړې، «لویدیځوال» ورته د آرمان نښې دي، خو لړ!!؟ « نادودې» لري چې هغه هم ورته د ځغم وړ دې، خو زما په شان یو شمیر لیونیان د ده د« لویدیځوالو» «نادودي»، بشري ضد جنایات او اخلاقي ضد هغه رسوایي ګڼي چې دبشریت تاریخ یې ساری نه لري.
سرلوڅ د زمانې د شیبوپه خدمت کې ولاړ دی خو د ده «شرګډي روشنفکران» د طالبانو ملاتړي دي. ځکه چې هغوی شیبو ته نه بلکې تاریخ ته ګوري. دا لنډه یادونه هم باید وکړم چې د سرلوڅ، لوڅې تورې لا تر ما نه دي را رسیدلي او ډیر هغه وتلي په وطن مین روښانفکران یې تر دې تورو لاندې را پرځولي چې ټولنیز وطنپال انسان سالار مقام او منزلت یې له هیچا پټ نه دی.
سر لوڅ د پروني اشغال (البته دی اوس خپله هسې د ورځې په نرخ هغه اشغال بولي) د لوړو ګوندي کړیو «کادر» و خو اوس هغه ته اشغال او دغه ته د وطن د ناجي په سترګو ګوري. دی ټول هغه روښانفکران چې د ده په شان فکر او لیکنې نه کوي تر سپکو سپورو لاندې نیسي او لیکي چې دغه ډله د ډاکټر، پوهاند، پروفیسور، څیړونکي او نورو القابو تر نامه لاندې ځان غښتوي او داسې څه لیکي چې هغه له طالبانو سره د دوی ملاتړښیي. ډاکتر سرلوڅ مرادزي ته باید لومړی وویل شي چې ته خو هم ډاکتر وې دا څه رمز دی چې خپل «علمي»عنوان او اصلي نوم دې پټ او مرادزۍ دې غوره کړ؟ په مهاجرت کې به ډیرو ځانته القاب غوره کړي وي. خو هغه وتلي روښانفکران چې د سرلوڅ تر لوڅې تورې لاندې را غلي په مهاجرت کې دې علمي مقامونو ته نه دي رسیدلي بلکې ډیر یې د لوړو زدکړو او پوهنیزو کارونو روښانه تاریخ لري.هغوی د دومره لویې پوهې او لوی زړه خاوندان دي چې ښایي د سرلوڅ سپکوته ځواب هم له خپل شان سره سم ونه بولي.
سرلوڅ لیکي:«دوی که څه په ښکاره د ډاکتر، پروفیسور، پوهان، څیړونکي او دا شان نورو نومونو ځانونه غښتوي او پړسوي، خو هیواد کې دننه د لویدیځوالو د نادودو، په دولت کې د فساد او په دولتي واک کې د نظار شورا او جمعیت په غوړ ګډون د نیوکو په پلمه د طالبانو ملاتړ او لاسنیوي ته پناه وړي. دوی هڅه کوي چې د طالبانو نادودو او کرغیړنو اعمالوته د منلو نظریاتي جواز وتراشي او ټولنې ته د موجوده نظام د بدیل په توګه طالباني نظام ور وپیژني»

salamwatanam@gmail.com

په همدې لومړي پراګراف کې داسې ښکاری چې سرلوڅ د رواني مزدورۍ په خیانت، وطن پلورنې، جنایت او فساد لړلې واکمنۍ په مرګ ژاړي. ده ته دده د«لویدیځوالو» جنایتونه نادودې، خو د طالبانو په نوم هرڅه چې ډیر یې پردیو او دولتي پرو پاګنډو جوړ کړي کرغیړنې نادودې بللي. پوښته دا ده چې دخلکو په ودونو، جنازو او په کورونو او کاریزونو کې ډله ییزې له شمیره وتې وژنې، پر ماشومانو او زړو جنسي تیري، د مسلمانانو دمقدس کتاب پرله پسې سوځونې، پرمړومیتیازې کول، په کورونو د شپې له خوا ور ننوتل او د خلکو د شرف، ناموس او عزت لوټول او بیا وژل او شهیدان هم په یوه خونه کې را ټولول چې دا له زرګونو پیښو اوړي د سرلوڅ له پاره ساده نادودې دي، چې په دې لسو کلونو کې یې د ده لویدیځوال ترسره کوې؟ او د دې په وړاندې آیا سرلوڅ رښتیاهم باور لري چې ټولې د لارو او سرکونو پرسر چاودنې د طالبانو دي؟ مګر د شوروي راوستې واکمنۍ په دوران کې د تبلیغاتو لړۍ او ورسره پلان شوې وژنې هیرې کړیدي. ولې د نظارشورا او جمعیت په غوړه ونډه ځنګ زن تیریږي، مګر خبره دا نه ده چې د ده ډیر ملګري له شمال ائتلاف سره وو او اوس هم هملته سر خوځوي؟ دا خبره هم د پام وړ ده چې د مولوی خالص هغه ډله چې د قدیر کورنۍ ته یې مشري پاتې شوه په پښتنو کې د نظار دشورا د ملاتیر وو آیا همدې ډلې د ننګرهار د خلکو اراده د نظار شورا او جمعیت په پښو کې په ګونډو نه کړه؟ سرلوڅ په دې هرڅه پوهیږي نو ځکه د نظار شورا او جمعیت له رواني لس کلنې واکمنۍ څخه په ځنګ تیریږي. هیڅوک د دې واقعیت انکار نشی کولی چې حامد کرزي په خپله هم د نظار د شورا ډیر پخوانی غړی و او له همدې کبله د رباني په واکمنۍ کې د بهرنیوچارو د وزارت معین شو. خود یوه شخصي ټکر په ترڅ کې یې د مارشال فهیم قسیم څپیړې او لغتې وخوړې او د هډوکو د سمولو له پاره بهرته وتښتید. له امریکايي او انګلیسي پوځي یرغل سره د وطن پلورنې د معاملې په سر کې هم همدغه د نظارشورا، جمعیت او د حاجي قدیر ډله ولاړه وه. او دهمدې ډلو په ملاتړ یې په بن کې حامد کرزی ته د امریکايي سناریو له مخې را یه ورکړه. د دغې پردۍ واکمنۍ له همغه پیل څخه، واقعي واک نه دیوه فرد په توګه د حامد کرزي بلکې د شورای نظار،جمعیت، دوستم، سیاف، حکمتیار، خلیلي، حاجي د قدیر د کورنۍ او دې ته ورته نورو په لاس کې و. د شورای نظار او جمعیت برخه غوړه نه بلکې واک دهغوی دی. دا واقعیت مګر ړوند وی چې ویې نه ویني. د سر لوڅ او په ننداریز پارلمان کې د حاجي قدیر د زوی ظاهر قدیر دریځ یو دی. هغه هم د جګړې د دوام ډول وهي او د اشغال د پایښت دعواې کوي او دغه هم.

د سرلوڅ د لیکنې عنوان د ده دریځ ښیي. هغه د همدې دریځ  له مخې ځانته خپل منطق جوړوي. طالبان کرغیړن او که چا د ده لودیدیځوال او د هغو پلاس جوړه شوې واکمني وغندله، هغه شرګندې روښانفکران دي. په انساني او فکري ژوند کې کله چې یوڅه له مخکې منل شوي وګڼل شي، د منطق ځای یو لیونی دګم نیسې. دغه لیوني دګم ته دلایل هم جوړیږي، هغه دلایل چې یوائې څښتن ته یې ډیر غوره بریښي. سرلوڅ په همدې لاره روان دی. د سرلوڅ د «لویدیځوال» اختراع هم د پام وړ ده، هغه په ښکاره اوښ په بډو وهي. نه غواړي د امریکا تر مشرۍ لاندې د ائتلاف، ناتو او ناتو آیساف پوځي اشغال په ژبه راوړي. د ده لویدیځوال په خپله هم افغانستان یو اشغال شوی وطن بولي خو سرلوڅ د دې واقعیت پټولو ته دخپل منطق بړستن جوړوي.که له ده پوښتنه وشي چې: ستا دا «لویدیځوال» څوک دي، څو له لویدیځ نه راغلې میلمانه دې؟ چا را بللي؟ دا دوه سوه زریزې په مرګوني جګړیز تر ټولو مدرن تخنیک سمبال لښکرې ، دا د لسګونو جاسوسي سازمانونو تور جال چې په ټول وطن را خور شوی، دا د بلک واټر، سیټې او دیکچیني دلاس وحشې جګړه مار اجیر ځواکونه، دا ټول میلمانه دي؟ ځنګه کولی شو د دغو میلمنو وحشت په ساده نادودو او د دې په وړاندې زموږ د خلکو پاڅون په کرغیړن عمل تعبیر کړو. د ده ځواب به څه وي. همدا پرتله کول په خپله دیوه کرغیړن موقیت ښودنه نه کوي؟

خو په دولتي واکمني کې د فساد خبره یوائې دا نه ده چې رشوتونه به وي، بهرنۍ «مرستې» به  یې لوټ کړې وي، د کار اهلیت او  توان به نه وي پکاروړل شوی او دې ته ورته څه.فساد ډیرې ژورې ریښې لري: جاسوسي د فساد مور ده، جاسوسان د ژوند په اډانه کې اخلاق نه پیژني، په عادي حالاتو کې د خپل وطن په استخباراتي کړیو کې کار کول یو ماموریت دي، خو پردو ته جاسوس کیدل د وطن پلورنې لومړۍ خښته ده. وطن یو مجرد او انتزاعي مفهوم نه دی. وطن یو تاریخ، یو هویت، یوځانګړی فرهنګ یو اخلاقي شخصیت دی. کله چې وطن پلورل کیږي یوائې خپلواکي ، ځمکنۍ سلامتیا او ملي واکمني له منځه نه ځي. بلکې، تاریخ، هویت، معنویت، فرهنګ، اخلاق، سنتونه او عقاید یې ټول پلورل کیږي. د انسان وژنه دردوونکې ده خو د یوه اولس د فرهنګ او معنویت وژنه او له هغه څخه د خپل هویت، تاریخ، اخلاقو، کرکټر، او عقایدو اخیستل، اولسونه تاریخي ورکې ته بیایي. فساد د فحشا په بڼه کې، فساد د دروغو، فریب، ریا، تذویر او  نیرنګ په بڼه کې، فساد د شخصیت لویدنې او بې هویته کیدو او جاسوس کیدو په بڼه کې، فساد د وطن پلورنې د اخلاقو د رواجولو په بڼه کې او با لاخره فساد د ژوند د ټولو اخلاقي لورو د راپرځولو په بڼه کې باید ولیدل شي .د فساد پراخه دردوونکې برخه باید په همدې لوروکې وڅیړل شي.

salamwatanam@gmail.com

د یوې ټولنې د تاریخي شخصیت بدلون په زور هغه هم د پردو په زورېو لیونتوب او یوه وحشت زیږونه ده. زور زور زیږوي. هغه اولسونه چې د پردو زورېې مقاومت ته را باسي د جګړې او ناخوالو مسؤل نه دي. مسؤلین هغه دي چې جګړه پې تپلې ده. د پردو تیري کوونکو وحشي کړنې کرغیړنې نه بلل خو د خپلو هرڅه کرغیړن ګڼل یو عجیب منطق دی.

دا سمه ده چې د طالبانو د واکمنۍ په بهیر کې ډیرې ناروا وې تر سره شوې.هغه څه د هیڅ روغ فکر د منلو وړ نه وې.د هغوی دودودیزه بنسټپالنه او هغه پرکنیز قهریدلی ځواک چې دوی ته یې جګړییز توان ور باښه د جهادي تنظیمي نارواوو په وړاندې تر ډیره یو نه ایساریدونکی بهیر و. تنظیمي واکمنیو په لږ وخت کې د خلکو او اولسونو وژنه، سپکونه، رټنه، لوټ او د هغوی په شرف، عزت او ناموس هغه څه وکړل چې او لسونه یې یوه نه ایلیدونکی کسات ته را وویستل.په دې خونړې خوځښت کې به یې له شکه د پردو لاسونه هم و خو یوه خبره دهیرولو نه ده چې دطالبانو د پرمختګ ستر شعار یوازې د فساد ، وژنو، لوټ او بې امنیتی په وړاندې نه و، بلکې وطن دجګړه مارو په مخامخ سلطنتونو اړول شوی و، هرچا خپلې پیسې، خپل بیرقونه او خپلې لښکرې او جیلخانې در لودلې او هرچا په خپل سر د وطن په سر له پردو سره معاملې کولې. دغه حالت د وطن د تاریخي یوالي پوښتنه را مخته کړه. د وطن د یوالي د ساتنې شعار د طالبانو خوځښت ته تومنه ورکړه. جګړه د وطن د یوالي تر خوندي ساتلو پورې د ورځې په شعار واووښته. جګړه د وژنو په څنګ کې ډیرې نورې ناروا وې هم لري. د ستر تاریخ لیکونکي ویل دورات دا خبره هم د یادولو وړ ده چې که تاریخ د فاتحینو له خولې ولیکل شي هغه یو ړوند تاریخ دی. د طالبانو د کړنو تاریخ تر ډیره د امریکا انګلیس او وروسته د ناتو او آیساف د خولی تاریخ دی، د سرلوڅ په شان د یو شمیر افغان لیکوالو ډیرې خبرې هم همدغه تاریخ جوړې کړیدي.

یوشمیر افغان لیکوال یا څیړونکي دا خبره هم زمزمه کوي چې که د افغانستان خلک د استعمار په وړاندې، د وخت د شوروي اتحاد د لښکرو په وړاندې او دغه شان په ټول تاریخ کې آن دساساني او مغولي امپراطوریو پرخلاف نه وی دریدلې، افغانستان به اوس په دغه وروسته پاتیوالي کې نه وای. دغه اخیستنه یو حسن نیت ښیي ، خو دغه شمیر کسان په دې نه پوهیږي چې ایدیال یوڅه او واقعیتونه نورڅه وي. ددې اخیستنو یو لنډځواب داهم کیدای شی که همدا مقاومتونه نه وي ، نو ښایي افغانستان به هم نه و. د افغانستان شتون د همدې مقامتونو زیږنده دی او همدغو مقاومتونو دغو خلکو ته همدغه دمقاومت تاریخي کرکتر ورکړیدی.یعنې دا چې له تاریخ څخه یې درنه برخه همدا ده.

salamwatanam@gmail.com

سر لوڅ دا خبره کشف کړې چې «شر ګډي روښانفکران» د رواني واکمنۍ بدیل په طالبانو کې ویني او له همدې کبله باید دښمني ور سره وشي. خو دی باید دا واقعیت هم ومني چې د افغانستان د کیڼ اړخه، ښي اړخه، منځپالو، ناسیونال سوسیالیستانو بې شمېره کسان د اشغال په درېځ کې په پټه او ښکاره ولاړ دي او په روان لوت کې بې ډیر څه هم تر لاسه کړي. دغه ډلې که د مزو چوکاټه خوندپوه شوي او ډیر څه بې هم په بډو وهلي نو که څوک ووايي که نه، داشغال په ټولو جنایاتو کې هم د برخې څښتن دي. څرنګه چې دطالبانو دواکمنۍ نادودې درټلو وړ دې د دوی د «لویدیځوالو» د جنایاتو بار هم باید همدوی ورسره وویشي.

د سرلوڅ منطق دا دی چې طالبان خپل سنتي اسلام غواړي او هغه د نني تمدن سره سمون نه لري. که څوک د طالبانو ملاتړ کوي نو هغوی همدغه د څورلسو مخکې پیړیو تاریخ ته ور ګرځي او دا په نن زمانه کې ناشونی دی.

سرلوڅ ته باید ووایو چې اسلام زموږ د خلکو سپیڅلې عقیده ده، اسلام سنتي او غیر سنتي نه لري. د اسلام مقدس کتاب همدغه قرآن دی. د هغه نوي کول او ستا د«لویدیځوالو» له «تمدن» سره په بله بڼه اړول یواځې له اسلام سره نه بلکې له ملیونو مسلمانانو سره دښمني ده. دغه دښمني وینې او مرګونه زېږوي. آن ستا د خوښې وړ پردو جوړه کړې واکمني هم همدا لس کاله ځان د اسلام تر نامه لاندې پټوي او په همدې خاطر بې د واکمنۍ نوم اسلامي جمهوریت دی. او ډیرې کړنې بې د طالبانو دوخت کړنې دي. که بې وس ورسي دخپل واک د دوام له پاره به په یوه واحد هیواد کې د ښځو او نارینه وو دوه ځانګړې دولتونه هم جوړکړي. له سرلوڅ نه پوښتنه داده چې کوم اسلام ورته خوندور دی، دغه چې« لویدیځوالو» او له هغوسره تړلو واکمنو جواسیسو او تنظیمي ډلو رامخته کړی، که هغه چې طالبان بې په نوم سر ورکوي. سر لوڅ څنګه دا منلی شي چې جمعیت اسلامي، اتحاد اسلامي، وحدت اسلامي، حزب اسلامي او نور چې په ښکاره د «لویدیځوالو» په جوړه شوې واکمنۍ کې د واک اصلي خاوندان دي ، خپل اسلامي هویت داسې اړولی چې د لویدیځوالوله تمدن سره سمون وخوري؟ دغه بدعت له اسلام څخه اوښتون نه دی؟ دغه بدعت د تنظیمي شکمن هویت ښودنه نه کوي؟ په دغسې یوه شکمن هویت د افغانستان مسلمانې پرګنې باور کولی شي؟

سرلوڅ د طالبانو ستره تیر وتنه دا بولي چې بن لادن بې امریکا ته ور ونه سپاره. باور لرم چې دی په دې پوهیږي چې د افغانستان د لاندې کولو طرحه نوې نه وه. دغه طرحه د سرې جګړې له پای ته رسیدو وروسته د مغرورې پانګوالې نړۍ د نړیوال پلان ستره برخه وه. د نړۍ دلاندې کولو خوبونه ډیر زاړه و، د نړۍ د جغرافیې

اړول له همدې خوبونو سره تړلي و،په دې برخه کې که چا ملا عمر هم امریکا ته سپارلی وای، پر افغانستان پوځي یرغل حتمي و. په لیبیا کې قذافي په دې ترګواښ لاندې و چې د لاکروبي په پیښه کې د ده لیبیا یانو لاس درلود. له لسو کلونو څخه زیات هره ورځ لیبیا تر امریکایي هوایي او راکټي اور لاندې وه، او په زرګونو انسانان یې له لاسه ورکړل. په پای کې په داسې حال کې چې دهغې پیښې له اصلي واقعیت څخه هیڅوک خبر نه شول، قذافي امریکاته په ملیاردونو ډالره تاوان ورکړ څو خپل خلک وژغوري خو همدا چې له دې لارې امریکا او اروپا ته نږدې شو د خپل مرګ چیټې یې په خپل لاس لاسلیک کړه. تر دې پخوا د صدام برخلیک هم همداسې و. همدا چې لویدیځ ته ورنږدې شو د مرګ لاره یې خلاصه شوه.

د سرلوڅ غوسه په دې هم راپاریدلې چې یوه د ده په خبره « شرګډي» روشنفکر ولې د نهرو دا خبره کړیده چې افغانستان د پردو له پاره تل د غومبسو ځاله وه. د فقید جواهرلعل نهرو دا خبره یو ژوندی تاریخ دی، د هغه تاریخ له لوستلو او ورنه په غوسه کیدو یوه خبره ښکاري او هغه دا چې سرلوڅ د تاریخ د پګړیو د لید توان نه لري. هغه ته تیرې تاریخي ویاړنې یادول د ده د لویدیځواالو د خواشینۍ لامل ګرځي. دی باید هغوته چې دغه یادونې کوي شرګډي روشنفکران ووایي.

دا خبره چې د ده لویدیځوال په افغانستان کې د نورو تیرو اشغالګرو په شان وروستۍ سلګۍ وهي هم سرلوڅ په ټیټکو را ولي اولږ تر لره د خپلې ژبې کنترول هم نه کوي. دا یوه عقلي ناروغي ده. که داسې نه وي د ده لویدیځوال په خپله هم اوس دا خبره مني چې پوځ یې په خاورو لګیدلی دی. د پانګوالې نړۍ پرګنیز خو ځښتونه دغه جګړه دهغه یو په سلو کې ښيي چې هم په خپلو ۹۹په سلوکې نارواوې کوي او هم نور ملتونه دخپلو ګټو لپاره ځپي. دنړۍ حالات اوس په ډاګه ښيي چې دپانګوال نظام دلویدو بهیر پیل شویدی.امریکا او متحدین به یې یا له اشغالي جګړو په شا کیږي او یا به له ډیره لیونتوبه یوه نړیوال ناتار ته مخه وړي. د اشغال او پوځي اډو جوړول همدې نړیوال ناتار ته ور دانګل دي.که دا ناتار زموږ په سیمه کې پیل شي لومړنۍ قرباني به یې افغانستان وي.

سرلوڅ په ناویلې توګه همدې ژرندې ته اوبه.

ورسیخوي.

سرلوڅ د خپلې لیکنې په یوه برخه کې د استسقأ لمونځ په یو ډول تمسخر د طالبان کار بولي. په داسې حال کې چې د طالبانو په دوره کې د استسقأ د لمونځونو ډیر څه نه اوریدل کیدل یا ما نه دي اوریدلي. د یوه روا هدف له پاره د استسقأ لمونځونه یو اسلامي سنت دی. خو څومره چې ښکاره ده، د محمد نادرشاه د راتک

په وخت کې د هغه د بري له پاره، د سقأ د زوی حبیب الله د بري له پاره او هم دا شان د تیرو انتخاباتو په لړ کې دحامد کرزي د بري په هیله د استسقأ لمنځونه پخوا د شور بازار او قلعه جواد حضرتانو او اوس ملیاردر شوي صبغت الله مجددي ادا کړل.
سرلوڅ په طالبانو دا نیوکه هم کوي چې دوی د محمد ظاهرشاه په نوم څه ژمنې درلودې خو هغوته یې شا کړه.د ده له نیوکې ښکاري چې دا هم یو کرغیړن کار بولي. دی نه پوهیږي چې د انګریزانو په خبره سیاست دایمي دوست او دښمن نه لري ، هرڅه د شرایطو له غوښتنې سره سم اوړي. نادرخان د شاه امان الله د بیرته راګرځولو په نوم خلک وغولول، د حامد کرزي پیشوا او د هیواد د تخت و تاج وارث هم محمد ظاهر شاه و، هغه خپله هم دا هیله پالله او دکاریز میر دغواو وغولانځې یې په سترګو کې ګرځیدې ،له همدې پلوه یې تاریخ ته شا ورکړه او دواک په تمه یې د تیري او اشغال ملاتړ اعلان کړ.خو همدا چې لویه جرګه جوړه شوه ،خلیل زاد(دویم بوش) یې په ستوني کې خبره ور وچه کړه او وروسته خوارکی له ډیره غمه په تشناب کې را پریوت او قبرغې یې تیر ویر شوي او لاړو چې لاړو.
سرلوڅ پروني چپیان هم بې داغه نه دي پریښې، دی هغوی ته چې په لویدیځوالو او واکمنۍ نیوکې کوی، افراطي چپیان وایي او هغه هم غندي. خو دا خبره نه کوي چې دغه افراطي چپیان څوک دي،پرون افراطي وو که نن افراطي شوي. پرون خو زموږ په هیواد کې دننه افراطي چپیان هغه ګڼل کیدل چې دچین د ترند پلوویان وو. نن خو د هغو چپیانو غټ کسان د رواني واکمنۍ اصلي ستنې دي. او په بهرکې هم دهغوی تلویزیوني خپرونې او انترنتي پاڼې داشغال او اشغالي واکمنۍ نغمې غږوي. که دلیکوال موخه داوي چې ځانته په دې خاطر چې داشغال په څنګ کې ولاړ دی اصولي چپي وایي او هغوی چې دده خلاف پر اشغال نیوکې کوي د طالبانو پلوي او افراطي چپیان دي ، دا نو د ده خاص منطق دی. ستونزه دا ده چې سر لوڅ غشي ولي خو د خپل هدف نوم نه اخلي.
سرلوڅ د لیکنې په یوه برخه کې له نوم اخیستلو پرته د یوه ډیر نامتو پوه څیړونکي او لیکوال د لیکنې یوه برخه را اخلي او داسې ښيي چې هغه لیکوال په خپله لیکنه کې د طالبانو پلوي ښودلې ده. دغه لیکوال ښاغلی داکتر رحمت ربی زیرکیار دی. د زیرکیار صاحب د لیکنې عنوان دی «خوار طالب او مست خان». ښاغلی زیرکیار د لیکنې په سر کې لیکي چې دغه لیکنه د ده او د یوه بل لیکوال هغه ګډ وړاندیز و چې د سپتامبر له یولسمې نیټې څخه نهه میاشتې مخکې یې لیکلی و او یوې رسنۍ ته یې لیږدلی و خو هغې رسنۍ لاسوهنه پکې وکړه او عنوان یې هم ورواړولی و. سرلوڅ د همدې لیکنې یا وړاندیز یوه برخه را اخلي او د هغې له وړاندې کولو

ځخه داسې جوړوي چې ګوندې زیرکیار همدا اوس د طالبانو په پلوی ولاړدی.د زیرکیار صاحب په ځه ناځه یولس کاله مخکې وړاندیز کې هم امریکاي لوری اوهم دطالبانو لوری یوې روغې او یوه تعقل ته را غوښتل کیږي. له وړاندیز ځخه داسې ښکاري چې دوه مادې یې امریکا او دوه یې طالبانو ته یوه سپارښتنه ده. زیرکیار همغه وخت یعنې دسپتامبر له یولسمې، نهه میاشتې مخکې د امریکا د پوځې تیري چمتو والی وینې. هغه نه غواړي افغانستان اشغال او دغه روان وحشت را منځ ته شي. زیرکیار طالبانو ته نه نن، بلکې یولس کاله مخکې دا سپارښتنه کوي چې:«په افغانستان کې دطالبانو مشران باید په دې واقعیت پوه شي چې نن دامریکا حکومت په «نړیوال کلي» (ګلوبال ویلج) کې یواځنی مست خان دی چې هم وسلې لري، هم پیسې لري ،هم نغارې لري، هم محکمه لري، هم قاضي لري او هم د دغو ټولو وسلو د استعمال اراده لري...په نړیوال کلي کې دغه ډول مست خان ستاسې (طالبانو) په شان مخالفین چې دشخصیت ادعا کوی نشي ځغملی».

سرلوځ همدغه برخه را اخلي پرته له دې چې وګوري دغه لیکنه څه وخت او دځه لپاره شوې ، زیرکیار د طالبانو ملاتړی او د نورو په شان هغه شرګډی پوهاند، ډاکتر، پروفیسور او ځیړونکی بولي چې د طالبانو شخصیت د واکمنۍ له نیولو سره تړي . سرلوځ لیکي : «دلته نوموړی لیکوال(منظور یې زیرکیار دی» په طالبانو پورې زړه تړي د نوموړي په آند طالبان چې په افغانستان کې جګړه کوي ګوندې د خپل شخصیت د اعادې لپاره یې کوي.هغه ځه چې لویدیځوال کوي هغه بیا طالبان نه کوي، او په دې ډول د لویدیځوالو د نادودو په وړاندې یوازینی بدیل طالبان، خلکوته وځلوي. دلته د طالبانو د شخصیت ادعا د افغانستان د واکمنۍ د نیولو په معنی ده...»

زموږ د خلکو په خبره «ده کجاو درختا کجا».د زیرکیار لیکنه ځه وخت شوې او د طالبانو د بیا واکمنې خبره د کوم وخت خبره ده. زیرکیار همغه وخت هم دطالبانو د شخصیت حکم نه دی کړې بلکې وایې امریکا د ستاسو«طالبانو»په شان مخالفینو شخصیت نشي منلی.هغه وخت نه اشغال و نه داشغال دا روانه فاسده اداره، او نه هم ددې اړتیا وه چې زیرکیار د دغې واکمنۍ بدیل په طالبانو کې ولټوي.سرلوځ ته بلنه ورکوم چې د زیرکیار هغه وړاندیز یوځل بیا ولولي. د سرلوځ غوسه په دې نه ده راغلې چې زیرکیار یولس کاله مخکې ځه فکر کاوه. دی هغو واقعیتونو لیونی کړی چې هره ورځ په میدیا کې د ده د لویدیځوالو د جنایاتو ، رسواییو او حتمي ماتې خبرې کوي. ښایي زیرکیار د یوه پوه وطنپال ځیړونکي او لیکوال په توګه په خپلو نورو لیکنو کې د خپلې ټولنې حالات د تاریخ او روانو واقعیتونو په رڼا کې انځور کړي وي او دا یې ویلي وي چې دروانې فاسدې

پردی واکمنۍ بدیل په طالبانو کې د لید ور دی. دا یو ساده نظر نه بلکې که دچا خوښ وي یا نه، له روانوحالاتو څخه یوجوړ شوی انځور دی.

د تنظیمونو د کړنو تاریخ روښانه دی، د نیمې لارې پرونیو چپیانو توبې، سجدې او اوښتنې او تاریخ او خلکوته شا اړونې هم ښکاره دي، په داسې یوه ترخه حالت کې نه بیا له بهره د پردو په لښکرو څه راوړل کیدی شي او نه کومه تاریخي معجزه د چپو، ښیو او منځپالو یو داسې کوم ځواک جوړولی شي چې په لنډه زمانه کې د طالبانو بدیل شي. د اشغال ماته او تیښته تر هر څه د مخه هغه وړې باد ته ورکوي چې د اشغال په معامله او واکمنۍ کې یې تر اشغال نه ډیرې کرغیړنې کړنې کړې دي. د هیواد په د ننه کې ډیرو پخوانیو چپیانو د موافقو ګوندونو هویت خپل کړ، «موافق!!؟» له اشغال او اشغالي واکمنۍ سره. له هیواده بهر هم دبیلګې په توګه «چپ نوین» ځانته نوی تعریف ورکړ او سید منصور نادري یې د داعيي مخکښ رهبر شو. دغه واقعیت ته په کتلو د اشغال او روانې فاسدې واکمنۍ بدیل باید څه وي؟ که څوک همدغه پوښتنه د واقعیتونو په رڼا کې وڅیړي هغه باید د طالب پلوي او شرګډي روشنفکران وګڼو؟ دا څه ډول منطق دی، له امریکایي ناتویي دموکراسۍ نه مو ټوله زده کړه همدا ده؟ او که دا تاسو نه یې چې طوطي وارخبرې کوې بلکې دا نور دي چې تاسو یې په څه تمه په خپلو ویندویانو اړولي. یې؟

روهی وبپانه

salamwatanam@gmail.com